# کوویډ-19 د ښوونځي په لیک کې

په 4/4/2022 نېټه اپډېټ شوی دی

[ ]

درنو والدینو/پالونکو:

زه دغه معلومات له تاسو سره د [ ] له لوري شریکوم. په مهربانۍ سره په ازادانه ډول موږ ته په [ ] زنګ ووهۍ یا د ورمونټ د روغتیا له ریاست سره په 855-722-7878 شمېره اړیکه ټینګه کړئ.

د دې لیک په وسیله تاسو ته خبر درکوو چې په ګڼ شمېر زده کوونکو کې د کوویډ-19 نښې نښانې لیدل کېږي او/یا یې د کوویډ-19 د معاینې پایله مثبته ده. کوویډ-19 یوه ساري تنفسي ناروغي ده چې له یوه شخص څخه بل ته د هوا له لارې انتقالېږي. دغه ناروغي مخکې له دې چې په یو شخص کې نښې نښانې ولیدل شي، انتقالېدای شي.

په مهربانۍ سره په خپل ماشوم کې د کوویډ-19 نښو نښانو ته پام کوئ، توپیر نه کوي چې هغوی واکسین کړي کنه. ستاسو ماشوم کولی شي ښوونځي ته تللو ته دوام ورکړي. که چېرته ستاسو ماشوم ناروغ شو، نو سپارښتنه کېږي چې هغه د کوویډ-19 معاینه ترسره کړي. [د معاینې د مرکزونو موقعیتونه او نور معلومات دلته ترلاسه کولی شئ].

د کوویډ-19 په نښو نښانو کې تبه، د سر درد، ریږدېدل، د بدن/عضلاتو دردونه، ټوخی، د پزې بهېدل، د خوند/بوېولو د حواسو له لاسه ورکول، ساه لنډې او د ستوني درد شامل دي. ښايي شخص زړه بدوالی، کانګې او اسهال هم تجربه کړي.

که چېرته ستاسو د ماشوم د کوویډ-19 د آزموینې پایله مثبته شوه، نو د 5 ورځو لپاره یې په کور کې وساتئ. هغوی هغه وخت ښوونځي ته را ستنېدای شي چې نښې نښانې یې له منځه لاړې شي او په تېرو 24 ساعتونو کې پرته له دې چې د تبې د کمولو درمل یې خوړلي وي، تبه پرې نه وي راغلې. تاسو کولی شئ د خپل روغتیايي پاملرنې له چمتو کوونکي څخه وپوښتئ چې ایا ستاسو د ماشوم لپاره د کوویډ-19 کومه درملنه توصیه کېږي کنه.

دلته [ځینې لارې چارې موجودې دي چې کولی شئ په دغه موده کې خپله کورنۍ او نور روغ وساتئ]:

- د کوویډ-19 له واکسیناسیون سره اپډېټ اوسئ.
- که مو نښې نښانې څرګندې کړې، نو د کوویډ-19 معاینه ترسره کړئ؛ [د معاینې د مرکزونو موقعیتونه او نور معلومات دلته ترلاسه کولی شئ].
- که چېرته ستاسو ماشوم ناروغ وي، نو ښوونځي ته یې مه پرېږدئ، په کور کې یې وساتئ.
- خپل ماشوم وهڅوئ چې د ټوخي پر مهال خپله خوله وپوښي او خپل لاسونه پرېمینځي.
- په سرپټو ځایونو کې پر ماسک اغوستلو غور وکړئ، په ځانګړې توګه په هغه صورت کې چې له داسې شخص سره اوسېږئ/وخت تېروئ چې د بدن دفاعي سیستم یې زیان منونکی دی یا د دې احتمال شته چې ښايي د کوویډ-19 په شدیدې ناروغۍ اخته شي.

د کوویډ-19 په اړه د نورو معلوماتو لپاره د ورمونټ د روغتیا له ریاست سره په 802-863-7240 شمېره اړیکه ټینګه کړئ.

ګټور لینکونه:

- [د CDC د کوویډ-19 معلوماتي پاڼه]
- [که ستاسو د ازمېښت پایله مثبته وي، ستاسو لپاره د ورمونټ د روغتیا ریاست لارښود]
- [د کوویډ-19 د واکسین یا تقویتي ډوز ترلاسه کول]
- [د معاینې د مرکزونو موقعیتونه او نور معلومات]

# COVID-19 at School Letter

Updated 4/4/2022

[Insert Today's Date]

Dear Parent/Guardian:

I am sharing the following information with you on behalf of [insert school name]. Please feel free to call us at [SCHOOL NURSE PHONE NUMBER] or the Vermont Department of Health at 855-722-7878.

This letter is to inform you that there are several students with symptoms of COVID-19 and/or who have tested positive for COVID-19. COVID-19 is a contagious respiratory disease that is spread person-to-person through the air. It can be spread before a person shows symptoms.

**Please monitor your child for symptoms of COVID-19, regardless of their vaccination status. Your child may continue to go to school. If your child starts to feel sick, it is recommended that they test for COVID-19. Testing locations and other information can be found here.**

Symptoms of COVID-19 include fever, headache, chills, body/muscle aches, cough, runny nose, loss of taste and/or smell, shortness of breath and sore throat. A person may also experience nausea, vomiting, and diarrhea.

If your child tests positive for COVID-19, keep them home for 5 days. They may return to school if their symptoms have improved and they have had no fever for at least 24 hours without the use of medicine that reduces fevers. You may ask your healthcare provider to see if any treatment for COVID-19 is recommended for your child.

Here are some ways to keep your family and others healthy during this time:

- Stay up to date on COVID-19 vaccination.
- Get a test for COVID-19 when symptoms occur; testing locations and other information can be found here.
- If your child is sick, keep them home from school.
- Encourage your child to cover any cough and to wash their hands.
- Consider masking in indoor spaces, especially if someone you live/spend time with is immunocompromised or is more likely to get very sick with COVID-19.

For more information on COVID-19, contact the Vermont Department of Health at 802-863-7240.

Helpful links:

- CDC Covid-19 Fact Sheet
- Vermont Department of Health guidance for if you test positive
- Getting the COVID-19 vaccine or booster
- Testing locations and other information